د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

تحلیل هفته

**ګڼه: 434**

(12 جوزا – 18 جوزا 1403 هـ ش)

# د اسلامي امارت په اړه د امریکا متحده ایالاتو بهرنی سیاست



دا نشریه د افغانستان او سیمې د مهمو سیاسي، امنیتي، اقتصادي او ټولنیزو پېښو د تحلیل اوونیزه خپرونه ده چې د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز له لوري په پښتو، دري، انګلیسي او عربي ژبو چمتو کېږي او خپرېږي.

## په دې ګڼه کې لولئ:


- د اسلامي امارت په اړه د امریکا متحده ایالاتو بهرنی سیاست.........................................3
- د اسلامي امارت او امریکا متحده ایالاتو ښکېلتیا او تعامل ........................................4
- ایا امریکا متحده ایالات دې اسلامي امارت په رسمیت وپېژني؟.........................................6
- د اسلامي امارت په اړه د امریکا متحده ایالاتو د بهرني سیاست مشخصې موخې .......................7
- پایله ..........................................................................................9
- وړاندیزونه .....................................................................................9
- مأخذونه.......................................................................................10


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

# د اسلامي امارت په اړه د امریکا متحده ایالاتو بهرنی سیاست

## سریزه

د نړۍ او سیمې هېوادونو په اړه د امریکا متحده ایالاتو بهرنی سیاست د بېلابېلو جمهور رئیسانو په دوره کې توپیر لري، خو له لومړۍ نړیوالې جګړې مخکې د بهرني سیاست ځینو پوهانو د امریکا متحده ایالاتو د بهرني سیاست په اړه ځینې تیوریانې وړاندې کړې چې وروسته بیا هغه په ځانګړو مکتبونو بدلې شوې. لنډه دا چې د امریکا متحده ایالاتو د بهرني سیاست جوړونې په برخه کې درې مهم مکتبونه موجود دي او د متحده ایالاتو بهرنی سیاست د همدغو مکتبونو څخه په اغېزمن کېدو ترتیب شوی دی. دا مکتبونه په لاندې ډول دي:

**۱- همیلتونیسم (Hamiltonism):** دا مکتب وايي چې د امریکا متحده ایالاتو بهرنی سیاست د ملي ګټو پر ځای پر امریکایي ارزښتونو ولاړ دی، خو دا ارزښتونه په نورو هېوادونو کې پرته له جنګه او مداخلې په داسې ډول منل غواړي چې امریکا متحده ایالات لومړی خپل ځان د هغو ارزښتونو نمونه کړي او بیا یې په اختیاري ډول په نورو هېوادونو ومني. لنډه دا چې دا مکتب منافع محور نه، بلکې ارزښت محور دی او په نورو هېوادونو کې د مداخلې او جنګ خلاف دی.

**۲- جکسونیسم (Jacsonism):** دا مکتب پر واقعیتونو ولاړ دی او په نړیوال سیاست کې د قدرت پر استعمال باور لري. دا مکتب د همیلتونیسم پر خلاف په بهرني سیاست کې امنیت محور او د امریکا متحده ایالاتو د ملي ګټو پر لاسته راوړلو ولاړ دی.

د جکسونیسم مکتب درې بنسټیز اصول لري:

الف- د امریکا متحده ایالاتو د ملي ګټو د لاسته راوړلو، ساتنې او پراختیا په موخه د نړۍ په بېلابېلو هېوادونو او سیمو کې مداخله کول؛

ب- په نړیوال نظام کې د یو قدرت په توګه د امریکا متحده ایالاتو د موقعیت ساتل او پراختیا او په دې لاره کې د اړتیا پر بنسټ له قدرت او زور څخه هم کار اخیستل؛

ج- د امریکا متحده ایالاتو د ملي ګټو پر وړاندې ګواښونو ته بېړنی ځواب ویل.

**۳- ویلسونیسم (Wilsonism):** د دې مکتب پر بنسټ امریکا متحده ایالات د خپل بهرني سیاست له لارې غواړي چې امریکایي ارزښتونه په نړۍ کې د مداخلې او جنګ له لارې په خلکو ومني.

د دې مکتب په نظر امریکا متحده ایالات په خپل بهرني سیاست کې د ژر تېرېدونکو ملي ګټو پرځای دایمي امریکایي ارزښتونو ته لومړیتوب ورکوي او بهرنی سیاست په دې ډول تنظیموي چې نړۍ امریکایي کړي او امریکایي ارزښتونه په نړۍ ومني او په دې لاره کې که اړتیا شي، نو له زور او قدرت څخه هم ګټه اخلي.

د دې مکتب پر بنسټ د امریکا متحده ایالات کله ناکله د امریکایي ارزښتونو د عملي کولو لپاره په نړۍ کې

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

جنګونه او مداخلې کوي، خو که دا جنګ او مداخله د امریکا متحده ایالاتو د ملي ګټې خلاف هم وي باید ترسره شي، یعنې د ملي ګټو او ارزښتونو د ټکر پر مهال باید ارزښتونو ته اهمیت ورکړل شي.1

د همیلتونیسم او ویلسونیسم مکتب توپیر په دې کې دی چې همیلتونیسم د امریکایي ارزښتونو د عملي کولو لپاره په نړۍ کې مداخله او جنګ نه مني او ویلسونیسم د امریکایي ارزښتونو د عملي کولو لپاره په نړۍ کې جنګ او مداخلې ته هم اجازه ورکوي.

دا درې واړه مکتبونه د لومړۍ نړیوالې جګړې څخه مخکې په امریکا متحده ایالاتو کې رامنځته شوي دي، خو له دویمې نړیوالې جګړې اوانتر نن ورځې د امریکا متحده ایالاتو جمهور رئیسان له دې مکتبونو اغېزمن دي.

که دا مکتبونه په عملي ډول له سړې جګړې وروسته د امریکا متحده ایالاتو پر جمهور رئیسانو تطبیق کړو، نو ویلای شو چې د جورج بوش (د جورج ډبیلو بوش پلار) بهرنی سیاست د جکسونیسم او ویلسونیسم له مکتب څخه، د کلنټن بهرنی سیاست د همیلتونیسم له مکتب څخه او جورج ډبیلو بوش بهرنی سیاست له ویلسونیسم مکتب څخه، اوباما او جوبایډن بهرنی سیاست له همیلتونیسم او جکسونیسم او ټرمپ بهرنی سیاست له جکسونیزم څخه اغېزمن و.

امریکا متحده ایالات د همدغو سیاسي مکتبونو پر بنسټ د اسلامي امارت په اړه هم خپل بهرنی سیاست تنظیموي. کله چې اسلامي امارت په ۱۴۰۰ هـ.ل. کال کې بیاځلي واکمن شو، نو له هماغې وخت راهیسې تر اوسه پورې د اسلامي امارت په اړه د امریکا متحده ایالاتو په بهرني سیاست کې بنسټیز بدلون نه دی راغلی، البته په تعامل او ښکېلتیا کې یې بهرنی سیاست د نرمښت لوري ته روان دی. د امریکا متحده ایالات هڅه کوي چې له اسلامي امارت سره داسې تعامل وکړي، چې نه دومره جدي اوسي چې اسلامي امارت په ټوله معنی له لاسه ورکړي او نه هم د دوی د غوښتنو منلو مخکې یې په رسمیت وپېژني او اړیکې ورسره نارمل کړي.

په دې تحلیل کې به لومړی د اسلامي امارت او امریکا متحده ایالاتو په ښکېلتیا او بیا د اسلامي امارت په اړه د امریکا متحده ایالاتو د بهرني سیاست مشخص اهداف روښانه کړو.

## د اسلامي امارت او امریکا متحده ایالاتو ښکېلتیا او تعامل

ښکېلتیا په دې معنی چې امریکا متحده ایالات د اسلامي امارت سره په بېلابېلو برخو کې په خبرو بوخت دی، بشري مرستې ورسره کوي او د راتلونکې په اړه ورسره خبرې، خو په رسمیت یې هم نه پېژني او په مطلق ډول ورسره اړیکې هم نه پرې کوي او تعامل په دې معنی چې د مذاکراتو او مفاهمې لپاره څو لارې

خلاصې دي او يو طرف هم په مطلق ډول خپل ټول شرايط په مقابل لوري منل نه غواړي، بلکې د ځينو شرايطو په بدلون سره کېدای شي د دواړو هېوادونو د اړيکو راتلونکی روښانه شي.

کله چې په ۱۴۰۰هـ.ل. کال کې اسلامي امارت بياځلي واک ته ورسېد، نو امريکا متحده ايالاتو غوښتل چې له يوې خوا اسلامي امارت د بشري حقوقو د نقض[2]، له نړيوالو تروريستي ډلو سره د اړيکو او همه شمول حکومت د نه رامنځته کېدو له امله وغندي او له بلې يې غوښتل چې له اسلامي امارت سره د افغانستان راتلونکي په اړه خبرې وکړي، بشري مرستې ورسره وکړي، اقتصادي پرمختګونه يې تاييد کړي او د داعش د له منځه وړلو له امله يې تشويق کړي.

د لومړنۍ موخې د ترلاسه کولو په موخه يې پر اسلامي امارت بنديزونه ولګول، د افغانستان د مرکزي بانک شتمنۍ يې کنګل کړې، د مشرانو په سفرونو يې بنديزونه ولګول او د دويمې موخې د ترلاسه کولو په موخه يې نړيوالې مرستندويه ادارې په افغانستان کې خلاصې پرېښودې، د ملګرو ملتونو له لارې هرې اونۍ څلوېښت ميليونه ډالرو په لېږلو سره يې د افغانۍ په ثبات کې مرسته وکړه، د دوحې کنفرانسونه يې داير کړل او د بشري مرستو په برخه کې يې د کانګرس نه ځانګړې بوديجه ورته تصويب کړه.

که پورتنۍ بحث ته وګورو، نو د امريکا متحده ايالات له اسلامي امارت سره د اړيکو د رامنځته کولو په دوه لارې کې دي، يعنې نه ورسره په مطلق ډول اړيکې پرې کولای شي او نه يې هم په رسميت پېژندلی شي، نو له همدې امله يې درېيمه لاره خپله کړې ده او هغه دا چې له اسلامي امارت سره ښکېل پاتې شي،[3] په ځينو برخو کې ورسره تعامل وکړي او د ځينو برخو داصلاح په موخه پرې فشارونه وارد کړي او تراوسه پورې د امريکامتحده ايالاتو دغه ډول سياست ادامه لري.[4]

لنډه دا چې د امريکا متحده ايالاتو اوسنۍ بهرنۍ سياست دا دی چې له اسلامي امارت سره ښکېل پاتې شي او له دوی سره د راتلونکي په اړه خبرې اترې وکړي او په مطلق ډول يې له انزوا سره مخامخ نه کړي او د امريکا متحده ايالاتو د ښکېلتيا دغه ډول سياست کېدای شي لاندې دلايل ولري:

۱- بشري او اقتصادي بناورين: د امريکا متحده ايالات نه غواړي چې په افغانستان کې د بشري او اقتصادي ناورين پړه په دوی واچول شي، ځکه دا په نړيواله کچه د دوی حيثيت ته صدمه رسوي او ځينې نور لوی قدرتونه له دې څخه د پروپګنډا په توګه کار اخلي او د نړيوالو ته وايي چې امريکا متحده ايالات چې هر چېرته تللې له وتلو وروسته يې هلته دغسې بحرانونه تر شا پرېښې دي، د همدې لپاره امريکا متحده ايالات غواړي د ملګرو ملتونو له لارې د اسلامي امارت سره ښکېل پاتې شي او له دوی سره بشري او اقتصادي مرستې وکړي.

۲- د اسلامي امارت د سياسي قدرت قوي والی: د اسلامي امارت په نږدې درې کلني واکمنۍ کې امريکا متحده ايالاتو وليدل چې دوی سياسي قدرت کاملاً په لاس کې لري، امنيت يې ټينګ کړی او د قدرت د عملي کولو مرکزيت په کې موجود دی. له همدې امله امريکا متحده ايالات غواړي چې دا سيمه په مطلق

ډول له لاسه ورنکړي او دا چې د اسلامي امارت سیاسي قدرت قوي دی، نو له دوی سره باید ښکېل پاتې شي تر څو په سیمه کې خپلې موخې تعقیب کړي.

۳- د اسلامي امارت سره د سیمې او ګاونډیو هېوادونو د فعالې ډیپلوماسۍ او اړیکو رامنځته کېدل: اسلامي امارت په سیمه کې له ایران، چین، مرکزي اسیا، ترکیې او روسیې سره فعاله ډیپلوماسي لري او له دوی سره یې ورځ تر بلې اړیکې قوي کېږي او که امریکا متحده ایالاتو په مطلق ډول له اسلامي امارت سره اړیکې پرې کړي، نو دغه هېواد به د دوی دښمنانو لاس ته وغورځېږي او امریکا متحده ایالات هیڅکله دا نه غواړي، په همدې موخه غواړي له اسلامي امارت سره ښکېل پاتې شي.

۴- د اسلامي امارت تمایل له غرب سره د اړیکو د رغولو په اړه: بله موضوع دا هم ده چې امریکا متحده ایالات ګوري چې اسلامي امارت غواړي چې له غرب او په ځانګړي ډول له امریکا متحده ایالاتو سره خپلې اړیکې ورغوي او په دې برخو کې خبرو ته هم اماده چمتو دي، نو په دغسې حالت کې امریکا متحده ایالات نشي کولای چې له خبرو او مذاکراتو تېښته وکړي، نو له همدې امله له اسلامي امارت سره په بېلابېلو مذکراتو کې ښکېل دي.

## ایا امریکا متحده ایالات دې اسلامي امارت په رسمیت وپېژني؟

د امریکا متحده ایالاتو د نړیوالو اړیکو کونسل((Council on Foreign Relations (CFR) له خوا خپرېدونکې د نړیوالو اړیکو (Foreign Affairs) ویبپاڼې پر همدې پوښتنه د پوهنتون ګڼ استادان، څېړونکي او برحاله سیاسیون پوښتلي دي، چې په پایله کې تقریباً نیمایي یې په دې باور دي چې باید له اسلامي امارت سره دې اړیکې رامنځته شي، ځینې په مطلق ډول د دې مخالف دي او وایي چې باید له اسلامي امارت سره هر ډول ښکېلتیا او اړیکې پرې شي او ځینې نور بیا بېطرفه پاتې شوي او دا کړنه یې شرایطو پورې تړلې ده، موږ دلته د درېو واړو نظرونو خلاصه او د هغوی دلایل وړاندې کوو:

**لومړی نظر: امریکامتحده ایالات باید له اسلامي امارت سره اړیکې رامنځته او په رسمیت یې وپېژني:** اسلامي امارت سره د اړیکو رامنځته کول او د دغه حکومت په رسمیت پېژندل کولای شي چې امریکا متحده ایالاتو ته متوجې ځینې امنیتي ننګونې له منځه یوسي، ځکه داعش کولای شي چې په سیمه کې د امریکا متحده ایالاتو امنیتي ګټې ونګوي او یا هم خپله امریکا متحده ایالاتو ته امنیتي ستونزې پیداکړي، خو که امریکا متحده ایالاتو له اسلامي امارت سره اړیکې رامنځته کړې او په رسمیت یې وپېژاند، نو اسلامي امارت کولای شي چې د داعش په مقابل کې اغېزمنه مبارزه وکړي او دا د امریکایانو په ګټه ده.

دویمه موضوع د نشه یي توکو د کرلو او قاچاق مخنیوي په برخه کې اسلامي امارت اغېزمن ګامونه اخیستي او که اسلامي امارت پوه شي چې له امریکا متحده ایالاتو سره یې اړیکې نورې نه جوړېږي، نو کېدای شي دوی د نشه یي توکو د کر له لارې پیسو ګټلو ته کار ووایي او قاچاق به یې د امریکا متحده ایالاتو په ګټه نه وي.


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د امریکا متحده ایالاتو اوسنۍ ښکېلتیا اسلامي امارت یو څه کنټرول کړی او که اسلامي امارت پوه شي چې غرب یې نور هېڅ په رسمیت نه پېژني، نو کېدای شي چې بشري حقوق نور هم له ننګوني سره مخامخ شي او اسلامي امارت یو ځل بیا له القاعدې او نورو نړیوالو شبکو سره اړیکې ټینګې کړي او په خپله خاوره کې ورته پټنځای ورکړي، چې دا کار په هېڅ ډول د امریکا متحده ایالاتو په ګټه نه دی.

بله مهمه موضوع دا چې په سیمه کې چین تقریباً اسلامي امارت په رسمیت پېژندلی، څکه سفیران یې په رسمي ډول تبادله کړي، د روسیې او ایران اړیکې هم ښېخې نږدې دي او که امریکا متحده ایالاتو د اړیکو د رامنځته کولو ته اقدام ونکړي، نو دا سیمه به په مکمل ډول له لاسه ورکړي او دلته به د امریکا متحده ایالاتو په مقابل کې یو منظم بلاک جوړې شي چې کولای شي په سیمه کې امریکایي ګټې له خطر سره مخامخ کړي.

**دویم نظر: امریکا متحده ایالات دې له اسلامي امارت سره هېڅ ډول اړیکې نه ټینګوي:** دا ډله پوهان په دې نظر دي چې اسلامي امارت یوه ترهګریزه او ایډیالوژیکې ډله ده او د دوی په رسمیت پېژندل به دوی نور هم قوي کړي. بله دا چې دوی فعلاً چې لا په رسمیت نه دي پېژندل شوي، نجونې تعلیم او تحصیل ته نه پرېږدي او د یو استبدادي نظام په توګه بل هیڅ افغان په سیاسي پروسه کې ځای نه ورکړي، نو که دا په رسمیت وپېژندل شول، نو دوی به بشري حقوقو نقض لا ډېر کړي او استبدادي نظام به ورسره نور هم پیاوړی شي.

**درېیم نظر: امریکا متحده ایالات دې اسلامي امارت په شرایطو په رسمیت وپېژني:** دا ډله پوهان وایي چې کله اسلامي امارت ټولشمولهحکومت رامنځته کړ، نجونې یې تعلیم او تحصیل ته پرېښودې او امنیتي ګواښونو نه یې امریکا متحده ایالات ډاډه شول، نو له هغې وروسته دې یې په رسمیت وپېژني.[5]

## د اسلامي امارت په اړه د امریکا متحده ایالاتو د بهرني سیاست مشخصې موخې

امریکا متحده ایالات د اسلامي امارت په اړه په خپل بهرني سیاست کې لاندې مشخصې موخې تعقیبوي:

**۱- د ترهګرۍ خلاف جګړه:** امریکا متحده ایالات تل افغانستان د ترهګرۍ جاله یاده کړې ده او دغه هېواد یې د خپل سیمه ییز او داخلي امنیت لپاره ګواښ ګڼلی دی. په افغانستان کې د اسلامي امارت د بیا ځلي واکمنۍ وروسته امریکا متحده ایالات دې برخه ته لا په دقت ګوري او ارزونه کوي چې ایا دغه هېواد یو ځل بیا د نړیوالو ډلو په پټنځای بدل نه شي. یوه هغه ډله چې امریکا متحده ایالات یې پر وړاندې مبارزه کوي، داعش دی. امریکا متحده ایالاتو د بهرني سیاست یوه موخه دا ده چې د اسلامي امارت له لارې په افغانستان کې داعش وځپي او دا سیاست هغه مهال له قوي شو، کله چې په ۲۰۲۲ز. کال په فبرورۍ میاشت کې امریکا متحده ایالاتو د داعش د یو مشر ثناالله غفاري پر سر ۱۰ میلیونه ډالر انعام کېښود، نوموړی د ۲۰۲۱ز. کال د اګست په ۲۶مه په کابل هوایي میدان باندې په برید تورن و او په دغه برید کې ۳۰ امریکایان هم وژل

شوي وو. په ۲۰۲۳ز. کال اپريل کې د امريکا متحده ايالاتو سپيني ماڼۍ اعلان وکړ چې طالبانو نوموړی کس وژلی[6] او په افغانستان کې يې داعش ډېر ځپلی دی، نو امريکا متحده ايالات غواړي چې په افغانستان کې د داعش په ځبر تروريستي ډلو په خلاف مبارزه کې اسلامي امارت شريک کړي.

**۲- افغانو ښځو او نجونو ته د حقوقو لاسته راوړل:** د اسلامي امارت د بيا واکمنۍ وروسته دوی اساسي قانون د تعليق حالت ته اچولی، چې ورسره د اتباعو حقوق او وجايبو سرنوشت نامعلوم شوی. د ملګرو ملتونو په يو بيان کې راغلي: افغانستان په نړۍ کې يوازينی هېواد دی چې ښځې او نجونې په کې له تعليم څخه منع شوي دي.

په ۲۰۲۲ز. کال ډسمبر مياشت کې اسلامي امارت ښځې په داخلي او بين المللي مؤسساتو کې له کار کولو څخه هم منعه کړې. همدارنګه له محرم پرته د ښځو او نجونو پر سفر يې هم بنديز ولګاوو، نو د امريکا متحده ايالاتو د بهرني سياست بل مشخص هدف دا دی چې د اسلامي امارت سره د خبرو اترو له لارې افغان نجونو او ښځو ته د هغوی حقوق ترلاسه کړي.

**۳- بشري مرستې:** امريکا متحده ايالاتو د بهرني سياست بل مشخص هدف دا دی چې د اسلامي امارت سره د بشري مرستو له لارې ښکېل پاتې شي او دغه بشري مرستې د څو لارو څخه اماده کوي: يو، د نړيوالو ادارو لکه خوړو نړيوال سازمان، د روغتيا نړيوال سازمان او نور...، دويم، ملګرو ملتونو له لارې (د ۲۰۲۳ز. کال لپاره ملګرو ملتونو ۴.٦ ميلياره ډالر په افغانستان کې د بشري بحران سره د مبارزې لپاره ځانګړي کړي وو)، دريم، نړيوال ډونران چې په هغې کې ځينې اروپايي، امريکايي او اسيايي هېوادونه شامل دي او څلورم خپله امريکا متحده ايالات دي چې د سيګار د راپور پر بنسټ د اسلامي امارت د بيا واکمنۍ څخه تر ۲۰۲۳ز. کال تر پای پورې امريکا متحده ايالاتو له افغانستان سره ۲.۱ ميلياره ډالره مرسته کړې ده، نو د امريکا متحده ايالاتو د بهرني سياست بله موخه دا ده چې د افغانستان خلکو سره بشري مرستې وکړي او دغه هېواد په بحران کې پرېنږدي او بل دا چې له دې لارې له اسلامي امارت سره هم ښکېل پاتې شي.

**۴- د نشه يي توکو د قاچاق مخنيوی:** د اسلامي امارت په اړه د امريکا متحده ايالاتو د بهرني سياست بله موخه د نشه يي توکو د توليد او د قاچاق مخنيوی دی. دا چې اسلامي امارت اميرالمومنين د يو فرمان په صادرولو سره د نشه يي توکو کر او قاچاق منعه اعلان کړی او ورسره په ټوله هېواد کې د اپيومو او نورو نشه يي توکو کر کم شوی، نو امريکا متحده ايالات دا د اسلامي امارت يوه لاسته راوړنه ګڼي او غواړي دې ته ورته نورو برخو کې هم اسلامي امارت اصلاحاتو ته اقدام وکړي، تر څو د دواړو هېوادونو ترمنځ رسمي اړيکې رامنځته شي.

**۵- له افغانستان څخه د امريکايي همکارانو راويستل:** د امريکا متحده ايالاتو د بهرني سياست بله موخه دا ده چې له افغانستان څخه خپل هغه همکاران راوباسي چې په شل کلن ماموريت کې يې له دوی سره کار او همکاري کړې ده.

**٦- پر اسلامي امارت د خپلو غوښتنو منلو لپاره د فشار او بندیزونو راوړل:** د اسلامي امارت له بیا واکمنۍ وروسته امریکامتحده ایالاتو د افغانستان د مرکزي بانک شتمنۍ کنګل کړه او لا تراوسه یې ازاده کړې نه ده، همدارنګه د اسلامي امارت د مشرانو په سفرونو یې بندیزونه لګولي دي، لا تراوسه یې په رسمیت نه دی پېژندلی دی، په ملګرو ملتونو کې څوکۍ نه ده ورکړې، د دې ډول فشارونو له لارې امریکا متحده ایالات غواړي چې پر اسلامي امارت خپل ځینې غوښتنې چې اکثره یې په امنیتي برخې کې دي ومني.

## پایله

له اسلامي امارت سره د امریکا متحده ایالاتو د تعامل لپاره امریکایي حکومت په مخ کې درې لارې موجودې دي: یو، اسلامي امارت په مکمل ډول انزوا کړي او نور سخت بندیزونه هم پرې ولګوي، تر هغې چې د دوی غوښتنې ومني. دویم، اسلامي امارت په رسمیت وپېژني او رسمي ډیپلوماتیکو اړیکې ورسره رامنځته کړي او دریېمه لار دا ده چې نه یې انزوايي حالت ته یوسي او نه یې هم په رسمیت وپېژني، بلکې ښکېل ورسره پاتې شي تر هغې چې اسلامي امارت په خپل داخلي سیاست کې بدلون نه وي راوستی. امریکا متحده ایالات تراوسه همدا دریېمه لاره اختیار کړې ده.

د اسلامي امارت په اړه د امریکا متحده ایالاتو د بهرني سیاست مشخصې موخې د تروریزم خلاف جګړه، د نجونو د تعلیم او کار د حقوقو لپاره مبارزه، د نشه يي توکو مخنیوی، د بشري بحران د مخنیوي په موخه مرستې، له افغانستان څخه د امریکایي همکارانو راویستل او د خپلو غوښتنو د منلو په موخه پرې بندیزونه او فشارونه واردول، دي.

## وړاندیزونه

١- اسلامي امارت دې په داخلي سیاست کې بدلون راولي، په ځانګړي ډول نجونې دې د اسلامي شریعت په چوکاټ کې ښوونځیو او پوهنتونو ته پرېږدي، تر څو د رسمیت پېژندنې لاره ورته پرانېستل شي او غرب او په ځانګړي ډول امریکا متحده ایالاتو سره یې اړیکې ورغېږي.

٢- امریکا متحده ایالات باید پر افغانستان بندیزونه لرې کړي، ځکه له امله یې عام ولس زیانمن کېږي، په ځانګړي ډول د مرکزي بانک کنګل شوې شتمنۍ دې ازادې کړي.

٣- اسلامي امارت دې هڅه وکړي چې له امریکا متحده ایالاتو سره د مذاکرې پروسه چټکه کړي، تر څو یوې پایلې ته ورسېږي، ځکه د نه رسمیت پېژندنې له امله افغانان په تعلیمي، اقتصادي او نورو ټولنیزو برخو کې له ستونزو سره مخامخ دي.



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## مأخذونه

[1] بهاره سازمند. سیاست خارجی قدرتهای بزرگ، مؤسسه فرهنگی مطالعات و تحقیقات بین المللی ابرار معاصر، تهران، ۱۳۹۰هـ.ش، ۲۴- ۲۵ مخونه.

[2] Scott Worden. Two Years of the Taliban's 'Gender Apartheid' in Afghanistan, United States Institute of Peace, September 14, 2023, Access link: https://www.usip.org/publications/2023/09/two-years-talibans-gender-apartheid-afghanistan

[3] Graeme Smith and Ibraheem Bahiss. The World Has No Choice But to Work With the Taliban, Foreign Affairs, August 11, 2023, Access link: https://www.foreignaffairs.com/afghanistan/world-has-no-choice-work-taliban

[4] Kate Bateman. A Shift Toward More Engagement with the Taliban? United States Institute of Peace, October 25, 2023, Access link: https://www.usip.org/publications/2023/10/shift-toward-more-engagement-taliban

[5] Foreign Affairs Asks the Experts. Should the United States Normalize Relations With the Taliban? August 21, 2023, Access link: https://www.foreignaffairs.com/ask-the-experts/should-united-states-normalize-relations-taliban-afghanistan

[6] Congressional Research Service. Afghanistan: Background and U.S. Policy, CRS Report, December 4, 2023, Access link: https://crsreports.congress.gov/product/pdf/R/R45122

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز نادولتي، غير انتفاعي او خپلواک ارګان دی، چې په ۱۳۸۸ لمريز کال کې په کابل کې جوړ شوی. دغه مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو له لارې، په افغانستان او سيمه کې د پاليسيو د ارزونې او بډاينې لپاره فعاليت کوي.

**اړیکه:**

ایمیل: csrskabul@gmail.com info@csrskabul.com

وب سایت: www.csrskabul.net - www.csrskabul.com

شمېره: +93780618000 +93780618000